

# اروابښاد استاد اولمیر

## زموږ د هیواد ویاړلي او برمیاله هنري څیره

زموږ هیواد د خپلی لرغوني جغرافیوي او ستراتیژیک موقعیت له مخې د طبیعي ډیرو ښکلو مناظرو، طبیعي سرشارو شتمنیو، زیرمو او منابعوو خاوند دی، چې زموږ فرهنګي نوښتګرو، پوهانو، مورخانو او لیکوالانو په دې هکله د خپل هنر او استعداد په وسیله او هغه مینه یې چې د خپلی خاوری سره لرله د تاریخ حافظی ته یې په خپلو اثارو کې درانه یادګارونه او نه هیریدونکي خاطرې سپارلي دي، چې د دغو فرهنګي څیرو مبتکرانه زیارګالني او نه هیریدونکي خدمتونه د پوره قدر او ستاینې وړ دی.

په یوه ټولنه کې هنر د انسانانو د ارتباط وسیله ده، چې هدف او موخه یې د انسانانو را وینښول دي او د انسانانو هر ډول ویده عواطف، احساسات او تمایلات را بیداروي او د خپل کلام او هنر په وسیله خپل واقعي او ریښتیني افکار او احساسات په مبتکرانه ډول نورو ته بیان او انتقالوي. په هره ټولنه کې بیلابیل هنرونه موجود دي لکه: د ښکلا او

ښکلا پیژندني هنر، د موسیقي هنر، د انځوریز هنر، د خطاطي هنر، د نقاشي هنر، د لیکني هنر، د نڅا هنر، د تیاتر هنر، د ډبرلیکنو هنر، د فلم او سینما هنر او داسی نور په زړه پوري حرکتونه د هنرونو په مکتب کې موجود دي. د موسیقي هنر د نورو هنرونو تر څنګ یو ډیر په زړه پوري هنر دی چې خدای پاک هنرمندانوته ور په برخه کړې دی. لکه څرنګه چې لیدل کیږي دا هنر هم لکه د شعر هنر یو الهامي کیفیت او الهي حکمت دی، چې زیاتره هنرمندانو ته ډالي شوې دی.

همدا خبره ده چې زموږ زیاتره هنرمندان د خپلو په زړه پوري او ښکلي آوازونو په وسیله د موسیقي سره یوځای د شعرونو ګلدستی په ډیر ښکلي کمپوزونو کې خپلی ټولني او خپلو مینه والو ته وړاندې کړې دي. زموږ هیوادوال د موسیقې سره یو ځانګړې مینه او علاقه لري، نو په کار ده چې زموږ هنرمندان خپله دنده په ډیر عالي توګه تر سره کړي. دوی باید خپل خوږ کلام او خپلی په زړه پوري سندرې او ترانې او خوږې نغمې په خپلو اغیزناکو او خوږو آوازونو کې د ساز په څپو کې خپلو مینه والو ته ورسوي، او دهغوی هیلو او آرمانونو ته او د دوی د روح د تسکین او آرامې لپاره خدمت وکړي، او په خپل کلام کی اود موسیقې د هنرپه وسیله د ټولنې اصلاحي او روزنیز حالات هم بیان کړي. یو هنرمند کولای شي چې په خپل یو اثر کې او په خپل په زړه پوري کلام او ژبه کې په خپل حرکاتو او برخوردونو کې د انسانانو غم او مصیبت، درد او رنځ په ښادي او ښکلا تبدیل کړي.

یو هنرمند کولای شي چې د خپل وطني او تاریخي افتخاراتو، ملي یوالي، اتحاد او اتفاق، مینی او محبت یوه څرګنده بیلګه شي. لنده دا چې یو هنرمند کولای شي چې د انسانانو په ملي، تاریخي، اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي موقف باندی اغیزه ولري. یوه انساني ټولنه د سندرغاړو او هنرمندانو په خوندورو آوازونو او مستو نغمو او موزیکال غږونو ښکلي او رنګینه ده. که د موسیقي په اغیزه سوچ وکړو، زیاتره شرقیان طبیعتا د غمونو او دردونو سره اخته دي، نو دوی زیاتره ختیځه موسیقي خوښوي دا پدی چې ځنی ختیځه موسیقي د لویدیزې موسیقي په پرتله غم انګیزه او خواشینوونکې ده.

دا یوه منل شوې خبره ده چې زموږ په هیواد کې د خراب اباد استادانو د موسیقۍ د ودې لپاره د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي. د خلکو په افکارو کې د دوی هنري اغیز څلیدونکي او نه هیریدونکي دی. دوی په سلګونو سازیان (نوازندګان) او سندرغاړي په رسمي او خصوصي توګه روزلی دي، او د موسیقۍ هنر د دوی د هڅو او زیار له برکته ډیرغوړیدلي دی، او له دغه کوڅه څخه نامتو استادان لکه د موسیقۍ سرتاج استاد سراهنګ او نور استادان وتلي دي.

همدغه د خراب اباد هنرمندان وو، چې زموږ زیاتره خلک د لویو او نامتو شاعرانو د شعرونو سره بلد شول لکه: مولانا جلال الدین محمد بلخي، امیر خسرو بلخي دهلوي، حافظ شیرازي، صاحب تبریزي، حضرت ابولمعاني عبدالقادر بیدل او داسی نور استادانو او نورو هنرمندانو د دوی شعرونه په خپلو خوږو سندرو کې او په خپل خوږ کلام کې د ټولو هیوادوالو غوږونو ته رسولي دي. زیاتره دغه استادان چې د هندوستان نه افغانستان ته راغلي وو په خراب اباد کې اوسیدل. زیاتره دوی د عرفاني چشتیه طریقې پیروان وو، په دغه طریقه کې د موسیقی ساز او آواز د اظهار اجازت شته دی. د هندوانو په مذهب کې هم مقدساتو ته رسیدل موسیقي ګڼي، او خپل مذهبي مراسم د موزیک په خوندورو څپو کې تر سره کوي، خو په اروپایي هیوادو کې د ډیر کلونو له تیریدو څخه وروسته کلیسا ګانو ته موسیقي لاره پرانیسته.

زموږ په وروسته پاتی ټولنه کې د موسیقۍ هنر هر وخت د ځینو متعصبینو افراطي مذهبي ډلو له خوا له ډیرو بندیزونو سره مخامخ شوې دی، خو بیا هم د دغو ستونزو سره سره زموږ د موسیقي په بڼ کې ډیر شمیر استادان او هنرمندان را ټوکیدلي وو او دي، یو له دی نامتو استادانو نه، وتلې او خوږ غږ لرونکې هنرمند خدای بخښلي استاد اولمیر دی.

استاد اولمیر زموږ د موسیقۍ په آسمان کې ځلانده ستوری او په کلونو کلونو د بزمونو مشال ؤ، چې ده په خپل خوږ آواز د رادیوتلویزیون څپوته لا ښکلا ورکړې وه. دا استادان او هنرمندان زموږ د هیواد سترې ملي شتمني دي، چې هر وخت باید دا شتمني د

موسيقۍ په تاريخ کې ځلانده او روښانه وساتل شي. زه هم دی ته وهڅيدلم، چې د دی ملي شتمنې په هکله خپل وطني او ملي پور ادا کړم او يوڅه وليکم.

استاد اولمير يو په زړه پورې آواز لري، چې د اوريدونکو او ليدونکو په زړونو منګولی شخوي او هغوی ځانته را کاږي. دی که نن د خلکو په منځ کې نشته خو دده تل پاتی غږ او هنر د خلکو په زړونو کې ځای لري. ده خپل آهنګونه او سندرې په ډير عالي کچه ويلې دي او په عالي قالبونو کې يې ځای په ځای کړې دي. د ده کمپوزونه د قدر وړ دي، همدا سبب هم دی چې تر ننه پورې د ده آواز د خلکو په ذهن او زړونو کې ژوندی پاتی دی. ده زياتره د خدای بخښلي (ملنګ جان) شعرونه په موسيقۍ کې انتخابول.

خدای بخښلي (ملنګ جان) د پښتو ادب په غيږه کې يو خوږ ژبی، وتلی، ولسي، با احساسه او ملي شاعر ؤ. د ده شعرونه د پښتو ادب په آسمان کې روښانه او ځليدونکی دي.

د ملنګ جان ډير نږدی کسان د موسيقۍ په برخه کې دا وو:

استاد اولمير، استاد ايوب، استاد منور، عثمان، اسلم، ګلالي، سپين بادام، تور بادام، نواب سيد علم، نعمت الله، طلا محمد،او داسی نور.

دغو هنرمندانو په کابل راديو کې او د نورو خلکو په محافلو کې د ملنګ جان شعرونه په ډيرو ښکلو کمپوزونو او طرزونو کې ويلی دي.

ښاغلي عبدالله بختانی خدمتګار، چې زموږ د هيواد يو نامتو اديب، شاعر او ليکوال دی د ملنګ جان په هکله په خپل يو شعر کې داسی وايي:

ملنګ جان زموږ د عصر يو آواز و\
د وطن د خوارو خلکو د زړه راز و\
په خوږو نغمو بيداره يې اولس کړ\
راز و نياز، درد و ګداز او سوز و ساز و

د استاد اولمير تولی سندرې او آهنګونه د موسيقۍ په تاريخ کې يوه لويه پانګه ده. ده خپلې سندرې په ډير عالي طرزونو او ښکلي غږ کې ويلي دي، خو د ده يو سندره چې شعری يې د خوږ ژبي شاعر ملنګ جان دی د هيواد په تاريخ کښی به هر وخت ځلانده او تل پاتی وي، او نن ورځ دغه په زړه پوری سندره د ملي سرود بڼه لري او د موسيقۍ داسی محفلونه نه شته چې هنرمندانو دا سندره هلته نه وي زمزمه کړی. ددی ښکلی او ملي سندرې شعر دا دی:

| | |
|---|---|
| دا زموږ زيبا وطن | دا زموږ ليلا وطن |
| دا وطن مو ځان دی | دا افغانستان دی |

دا يو حقيقت دی چې استاد اولمير يو منلي او وتلي هنرمند و، او د ده غږ ډير زيات مينه وال لرل.

د استاد اولمير شخصيت نه يوازی د ده په سندرو کې پروت دی بلکه ده د افغانستان سره او د انسان او انساني کرامت سره يوه ژوره او ښکلی مينه لرله.

استاد اولمير په (۱۳۱۲) لمريز کال کې د پيښور د (سولی) په کلي کې زيږدلی دی.

د ده پلار احمد خان نوميده. د ده هنري ژوند د يو سر لوړي استاد په توګه د تولو هنرمندانو په ډله کې يو ځانګړې مقام لري.

استاد اولمير تر ځلورم ټولګې پورې خپله زده کړه په خپل کلي کې سر ته رسولې ده، او بيا پيښور ته ولاړو او هلته يې د فرنټير په ښوونځي کې تر لسم ټولګي پورې خپله زده کړه تر سره کړه. دی لس کلن ؤ چې د موسيقۍ سره يې مينه پيدا کړه او همداسی پسی سندرغاړې شو. ده هر وخت د پښتو فلمي سندرې ليدلي او زمزمه کولي او ترينه يې خوند او ګټه اخيستله. ده خپل مور او پلار په کوچينوالی کې له لاسه ورکړل. دی لس کلن ؤ چې د يو نامتو هنرمند جعفر علي خان سره په خپله سيمه کې پيژندګلوي پيدا کړه او د هغه شاګردي يې په موسيقۍ کې تر لاسه کړه او د ده نه يې آرمونيه هم زده کړه او استاد د پښتو موسيقۍ زده کړه له ده سره پيل کړه. وروسته له دی چې پلار او مور يې

وفات شول ده په خپل ژوند کې ډېرې سترې او ستوماني او ترخې شيبې تيرې کړې دي او دی د خپل تره سره اوسيده. هغه استعداد، مينه او علاقه چې استاد د ساز، آواز او موسيقي سره لرله دده تره هم دده ډير قدر کاوه او دده هنر ته يي په ډيره درنه سترګه کتل.

پس له څو مودې وروسته د ده تره د استاد هغه استعداد او په زړه پورې آواز چې موسيقي کې ولیده دی يې د يو مشهور هنرمند سبزعلي خان سره شاګرد کړ.

سبز علي خان هم چې دده توانايي په موسيقي کې وليده دی يې د ځان سره لاهور ته يووړ او هلته يي ده ته د موسيقي د زده کړی لاره اواره کړه. پس د يو لړ هنري فعاليتونو وروسته دی بيرته پيښور ته راغی.

سبز علي خان په پيښور کي د استاد سره په ګډه يوه سندره چې (زړګي مې شو ټوټې ټوټې) نوميده د پيښور له راديو څخه خپره کړه دا لومړنې سندره وه چې خپره شوله. د دغې سندرې د خپرولو وروسته د ده ټوله کورنې له ده نه خپه او خوابدی شوه او دی د زياتو ستونزو سره مخامخ شو. خو سره له دی هم ده د موسيقي زده کړی ته دوام ورکړ او په دی لاره کې نه هيلی نشو.

له څه ځنډ وروسته دی د يو نامتو او پياوړي شاعر ښاغلي ګلستان سره پيژندګلوی پيدا کړه او يو څه موده يې د ده سره ژوند کاوه او دده نه يي ډيره ګټه ترلاسه کړه او ډيری نوی سندرې يي د ده په مرسته جوړی کړی. پس له ډيرو ستونزو، ستومانيو او خواريو دی په (۱۷) کلنې کې په (۱۳۲۹) لمريز کال کې د تيرا د يو شمير مخورو او مشرانو سره د افغانستان د خپلواکي په جشن کي د ګډون لپاره کابل ته راغی. په دی محال کې دی د يو نامتو، ادبي، ولسي او ملي شخصيت ارواښاد ملنګ جان سره معرفي او ملګرې شو. هغه وخت ملنګ جان په راديو کابل کې د پښتو موسيقي چلوونکي او مسوول ؤ. استاد اولمير د ملنګ جان په مرسته يو څو مودی لپاره په کابل راديو کې ګډ کارته ادامه ورکړه. استاد د ملنګ جان خواږه او په زړه پوري شعرونه په ډير عالي طرزونو کې جوړ کړل او په خپل ښکلي غږ کې لاپسی ښکلي اوپه زړه پوري کړل.

خود ځينو ستونزو له کبله د ده اړيکې د کابل راديو سره وشليدلې. وروسته استاد د يو نامتو او خوږ ژبي هنرمند اروابناد استاد نبي ګل سره اړيکي پيدا کړی او د ده په مرسته په (۱۳۳۵) لمريز کال کې بيا د کابل راديو سره خپل هنري فعاليت پيل کړ.

هغه سرشار استعداد او هغه په زړه پوري غږ چې ده درلود ده خپلو هنري هلو ځلو ته د ژوند تر پايه پورې دوام ورکړ او د راديو کابل سره يې اړيکې نورې هم زياتی او پياوړې شوې.

ده د پښتو موسيقي د ودی او پرمختيا په برخه کې ډيره غټه ونډه واخيسته او په دی لاره کې يې ډير زيات زيار وګاله او ډير زيات کاړونه يې ترسره کړل. د پښتو په موسيقي کې د ده خدمتونه د پوره قدر او ستاينې وړ بلل کيږي.

استاد اولمير ډير شاګردان وروزل او يو شمير سندرغاړو ته يې کمپوزونه هم جوړکړي دي. د استاد شاګردان ډير وو خو له هغوی څخه نعمت الله، طلا محمد او سيد علم ده ته نږدی کسان وو. استاد په خپل غږ کې په کابل راديو کې د (۴۰۰) سندرو په شاو خوا کې او په تلويزيون کې يې هم يو شمير سندرې ثبتی او خپرې کړې دي. ده په تلويزيون کې د ناروغي اوصحيي حالاتو له کبله لږ سندرې ثبتی کړې دي.

استاد د خپلو ثبتی شوې سندرو سره د پښتو موسيقې پانګه نوره هم بدايه کړه.

ده ته د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوايه (۱۳۵۰) لمريز کال کې د استاذی دروند او وياړلي لقب ورکړ شو. تر هغه ځايه پورې چې ده په موسيقي کې يو ځپانده استعداد او خوږ غږ درلوده دی تل د لوړو مقاماتو له خوا وياړل شوې او ستايل شوې دی. ده دوه ځله په ډير درنښت د لومړې درجې د سندرغاړي هنري جايزه اخيستی ده. د ده استعداد او هلي ځلي په موسيقي کې نه هيريدونکي او نه ورکيدونکي دي.

ده نه يوازی په هيواد کې د ننه بلکې د هيواد نه بهر هم سندرې ويلي دي. استاد د افغاني هنري ډلوسره هندوستان، روسيې، چکسلواکيا، پينور او کوټې ته هنري سفرونه کړې دي او هلته يې خپلو مينه والوته کنسرتونه ترسره کړي دي.

د استاد د شعرونو انتخاب او غوره کول د سندرو لپاره د ده کمپوزونه د پښتو موسيقۍ د ودې او پراختيا لپاره د قدر وړ دي، اوله همدې کبله د ده خوږې سندرې اوپه زړه پورې ترانې او زمزمې د خلکو په زړونو کې يو ځانګړې ځای لري او هر څوک يې خوښوي او ترينه لذت وړي. ده په خپل خوږ آواز اوپه زړه پورې نغمو هر وخت د خلکو محفلونه تاوده ساتلي دي.

استاد اولمير ډير کړکيچن ژوند تير کړې دی اود ډيرو ستونزو او ناخوالو سره مخامخ شوې دی. ده د ژوند تر پايه پورې واده ونه کړ او خپل ژوند يې زياتره په يوازيتوب تير کړې دی. ده د ژوند آخرې ورځې د تکړه سندرغاړي او د ده شاګرد نعمت الله سره تيره ولې او نعمت الله هم د ده ډير قدر او درناوې کاوه.
دا خوږ ژبې بلبل، ځلانده ستورې او د په زړه پورې نغمو او سندرو هنرمند په (۱۳۵۹) لمريز کال کې د وږې (سنبلې) په مياشت کې په يوه ترافيکي پيښه کې سخت ټپي شو، چې له بده مرغه په دغه پيښه کې يې کيڼ لاس مات شو او دی د يو څه مودی لپاره په روغتون کې پاتی شو. دغی پيښی او رنځورتيا په ده باندی ډيره ناوړه اغيزه وکړه او دی يې په خپل وروستي ژوند کې ډير وځوراوه. خو له دی سره سره ده هغه مينه چې موسيقي ته لرله خپل هنري کارونو ته ادامه ورکړه.
دا ځوريدلې استاد د غوايې د مياشتې په ( ۱۴) نيټه په (۱۳۶۱) لمريز کال کې له دی فاني دنيا څخه سترګې پټی کړې. دی د شاه شهيد زيارت تر څنګ خاورو ته وسپارل شو. د يادونې وړ ده ميرمن ملالی چې يوه نامتو څيره ده او زياتره خلک يې په هيواد کې دننه او بهر پيژني هغه علاقه چې دی د استاد اولمير هنري شخصيت ته لرله د ده قبر يې په خپل شخصي لګښت بيرته له سره جوړ کړ چې د دی دا کار د هيواد په فرهنګي برخه کې يو نه ورکيدونکي او نه هيريدونکي کار دی.
له دی ليکنې په پای کې ويلې شم، استاد اولمير هغه ملي او لوی هنرمند دی چې د ده هنري څيره اود ده وياړلې نوم د ټولو افغانانو او د ټولو د موسيقي مينه والو په زړونو کې يو ځانګړې مقام لري او د ده غږ د تل لپاره ژوندی دی.

خوشحال خان بابا وايي:

مړه هغه چې نه يې نوم نه يې نشان شته
تل تر تله په ښه نوم پايي ښاغلي

د ده روح دی ښاد وي

په مينه او درنښت: انجنير عبدالقادر مسعود

استاد صادق فطرت ناشناس د استاد اولمير په هکله:

http://www.youtube.com/watch?v=Lt5eZ7cVpUY

توجه!

کاپی و نقل مطالب از «اصالت» صرف با ذکر منبع و نام «اصالت» مجاز است

کليه ی حقوق بر اساس قوانين کپی رايت محفوظ و متعلق به «اصالت» می باشد

Copyright©Esalat

www.esalat.org